حکیم روان ۲۴/۰۹/۲۰۱۲

# د قدرمن لیوال صاحب غوښتنې ته غبرګون

سلامونه او درناوی وړاندې کوم، هیله ده چې د خپلې درنې کورنۍ سره روغ او جوړ وې. ستاسو لیکنې په بې ساري لېوالتیا او اشتیاق سره لولم. تاسو ریښتیا لیکی او ریښتیا تل بې غرضو او ریښتینو خلکو ته په زړه پورې وي.
د وروستیو څو کالو په جریان کې ستاسو لیکنې څارم. په دې هیله وم چې ګوندې یو وخت واورم، چې لیوال صاحب نه یواځې په ریښتیا ویلو کې معجزه کوی، بلکه د ریښتیاؤ د پلي کولو له پاره یې هم معجزه وکړه. تاسو ریښتیا وایي او ریښتیا په ښه شان سره ویلای شی، خو د ریښتیاؤ د پلی کولو کار څه آسان کار نه دی. هغوی چې د ریښتیاؤ پر ضد د دروغو او چل ول شا ته ولاړ دی، په هر ډول وسلو سمبال دی. له سازمانه نیولی تر سیاسی واکه، تروسلو او پیسو پورې. که ستا ریښتیا واکمن کیږی، د ده دروغ باید له منځه ولاړ شی مانا دا چې د هغه شانداره ماڼۍ بنسټ له منځه ځی، په کومه کې چې د پیسو، زور او واک له برکته واکمنو ته خلک لاس په نامه ولاړ وي.
سره له دې چې دوی پیسې، زور او واک په اسانه تر لاسه کړي، خو باور لرم چې هیڅکله به یې په آسانه له لاسه ور نه کړی. تاسو د روښانفکر په مقاله کې د ټولو نورو مقالو په څېر په زړه پورې ټکو ته اشاره کړی ده. زما له نظره د ژان پل سارتر بې عدالتۍ ته نه ویل کفایت نه کوی. تاسو وایي چې «مونږ داسې روښانفکران ښایي ډېر کم او یا هم ښایي هیڅ ونه لرو چې بې عدالتۍ ته نه ووایي.» دا لومړنۍ ټکی دی چې زما د نظر د ټکو سره ورته والی نه لری. برعکس مونږ ډېر زیات داسې کسان لرو چې بې عدالتۍ ته نه وایې، خو یواځې په نه ویلو کار نه جوړیږی. دا ځکه مونږ عادت یو چې یواځې له ځانه د باندې بې عدالتی وینو، پخپلو ځانو کې د بې عدالتۍ ظرفیتونه نه شو لیدلای، تر څو هغه مهار کړو. او کله چې واک ته ورسو، مونږ پرونی انقلابیون او اصلاح غوښتونکی په خطرناکو دیکتاتورانو اوړو. داسې کسان ډېر دي چې د نورو بې عدالتۍ ته په لوړ آواز نه ویلای شی، خو د عدالت د ټینګولو جوګه نه وي. راځم ، اصلی خبرې ته : زه تاسو ته بې له مقدماتی تشریفاتو ویلای شم، چې تاسو په یواځې ځان د عدالت د ټینګولو ستر کار سر ته نه شی رسولای. که تاسو د یوه ډېر ښه سیاسی ګوند په سر یا بیخ کې هم واقع شی، حتا ډېر ښه او پراخ سیاسی ګوند هم په یواځې توګه دغه ستره دنده په بریالیتوب سره سر ته نه شی رسولای، د ټولنیز عدالت ستر کار ته باید د ټولنې ټول سالم ځواکونه سره یو او متحد شی، زما په لنډ فکر زمونږ د ستونزو د حل له پاره، حتی دا هم کفایت نه کوی، یو افغانی سراسری ملی پیوستون باید دا وړتیا پیدا کړی چې د نړیوالې ټولنې انسانی مرستی هم جلب کړي. زما په نیمګړی فکر د افغان کشالې حل د یوه لیکونکی او ژورنالیست، د یوه سیاسی شنونکی او سیاسی ګوند له سطحې لوړ کار دی. د ټولنیز عدالت د تأمین چاره ، د ټولنې د ټولو اقشارو، سیاسی ګوندونو، مدنی ټولنو او په پای کې د ټولو وطنپالونکو د عمل یووالی او ګډو هڅو ته اړتیا لری. له ډېرو سختو درسونو وروسته افغانان بایدنه یواځې یو بل نفی نه کړي بلکې نور باید، پر یوه او بل د باور، متقابل درناوي، پخلاینې، ګډکار او شریکو هڅو په اهمیت پوه شی.
اوس په افغانستان کې د سیاسی ګوندونو په هکله د وروستی پریکړې له مخې څو دېرش سیاسی ګوندونه راجستر شوی دی. زه د هیڅ ګوند په طرحو کې دومره مزه، رڼایې، شفافیت او صراحت نه وینم، لکه ستاسو په لیکنو کې.
خو تاسو په دې څو دېرشو ګوندونو کې یو ګوند نه وینی چې خپلې هڅې ورسره شریکې کړی او هغوی سره په دې برخه کې مرسته وکړی او پخپله مو هم د یوه سیاسی ګوند د جوړیدو له پاره یا هڅه نه ده کړی او یا مو هڅو نتیجه نه ده ورکړي. تاسې تر ما ښه پوهیږی چې په انفرادی ډول د ټولنیزو بدلونونو راوستل ممکن نه دي. هو ! تاسو د ګوندونو سره مخالفت لری؟ فکر کوم چې په ټول افغانستان کې به لس نفر پیدا نه کړی چې تاسو سره سل په سلو کې یو ډول فکر او قضاوت ولری. که مونږ د مخالفت په وجه هر چا ته نه ووایو ، مونږ به هیڅکله ددې وس پیدا نه کړو چې بې عدالتۍ په یوه خوله نه ووایو. تاسو په موجودو ګوندونو کې خپلو نظریاتو ته نږدې ګوندونه نه وینی، ځکه تراوسه انفرادی کار کوی. ما سره داسې فکر پیداکیږی چې لیوال صاحب منتظر دی چې له آسمانه د ملایکو لښکر راشی او لیوال صاحب به په ډاډ او اطمینان د سترو ملی آرمانو پر خوا ور سره ولاړ شی. دا معجزه به ځکه پیښه نه شی چې له محمد (ص) نه وروسته معجزې بند شوی دی. د لېوال صاحب د پاکو آرمانو د تحقق له پاره مجبور یو چې همدا کانه، ړانده، ګوډان او زما په شان پکان سره لښکر کړو او ددې آرمانو پر خوا یې وخوځوو. آیا مونږ د انتظار وخت لرو؟ مونږ ډېر فرصتونه او موکې د لاسه ورکړي دي او هره موکه چې د لاسه تللي ده، مونږ تاترین او قهقراء ته نږدې شوي یو. زه خو چې ګورم یوه ورځ تر بلې خرابیږي. د شلمې پیړی لوی پوه او متفکر آلبرت انشتاین د دویمې نړیوالې جګړې د پیل په درشل کې ویل چې: «د بشر ژوند له یوې ورځې نه بلې ته د زغم


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ښخه وځي. په دې يواځې هغوی ملامت نه دی چې ژوند د دردونو او کړاؤنو سره مخامخ کوي، بلکه هغوی هم ملامت دی چې پيښې ويني او پر وړاندې يې هيڅ نه کوي.» په ډېر تأسف سره چې زمونږ د هيواد او خلکو ټولو مادی او معنوی شتمنيو او راتلونکی ته مرګونی ګواښونه ورځ تر بلې زياتيږی، خو زمونږ پوهان د ځان او يوازيتوب له غلافه راوتلای نه شی، تر څو پر ټولو د ټولو په منځ کې د ګډو هڅو د پاره غږ وکړي او د تباه کوونکو ګواښونو مخه ډب کړی. که ټوله ټولنه پوهان شی او د ليوال صاحب په شان فکر او قضاوت وکړی، بيا به د يوه ليوال صاحب له پاره هغومره اړتيا هم نه وی لکه اوس چې شته. زه د لېوال کمال په دې کې وينم چې هغه کسان ګډ کار او ټولنيز فعاليت ته وهڅوی چې تر ننه يو بل ته دښمنان وايي. خلقی، پرچمی، مجاهد، طالب، پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، بلوچ نورستانی او نور ټول د يوې مور په لمن کې پيدا شوی دی. افغانستان زمونږ د ښو او بدو د ټولو مور ده او په ټولو يو شان حق لري. د دې مور تر ټولو ښه ځوی هغه دی چې د مور د ښه خدمت د پاره د هغه د ټولو زامنو او لونوتر منځ يووالی او اتحاد تأمين کړي. افغانستان د ټولو افغانانو ګډه شتمنی ده، هيڅوک په دې شتمنۍ د انحصار، سودا او ټيکه دارۍ حق نه لري.

د قدر وړ لېوال صاحب ! زه د يوه سياسی ګوند غړی يم، زه باور لرم چې تر پاک او په رښتياؤ ولاړ سياست نه بله وړ او شريفه دنده نه شته. زه دداسې ګوندغړی يم چې لومړی رييس يې له يوې مودې وروسته خپل يو بل ملګری ته د ګوند رياست پرېښود او پخپله په ښتګ کې ورسره د يوه رښتينی او صميمی دوست په څېر مرسته کوي. زما په اند د افغانستان د سياسی ګوندونو په تاريخ کې دا بېساری کار دی. له بده مرغه زمونږ د سياسی ګوندونو مشران د مطلقه پاچاهانو په څېر د ژوند تر پايه، يا د ګوند تر ړنګيدو د ګوند مشر پاتې کيږی. زمونږ په ګوند کې ټاکنې د انتخاباتو له لارې کيږی او د ګوند مشرتابه تل د ګوندی سازمانونو سره مشورې کوي. دا ګوند اته کاله عمر لري، اوه کاله يې ددې د پاره په هڅو کې تېر شول چې د هيواد بې شماره ګوندونه د خبرو آترو او مذاکراتو له لارې يوه جوړ جاړی ته سره ورسيږی او په اصطلاح دا د سياسی ګوندونو آشفته بازار، د اوسنی وضعيت د غوښتنو او د هيواد او خلکو د اړتياؤ په لور بو ځي. له نېکه مرغه په دې ورځو کې يې د هيواد د يوه بل راجستر شوی ګوندسره د يو ځای کيدو خبرې پای ته نږدې شوي دي. په دې کار سره به په افغانی ټولنه کې په ځانګړی توګه په روښان فکری چاپېريال کې د حاکم نفاق او بې باوری سنت يو درز ووينی. دا درزونه بايد ادامه ومومی. ددې ګوند سترګې ستاسو په شان پوهو او با تدبيره ځوانانو پسې ړندې شوې. په دې څو کالونو کې چې زه ستاسو د نوم او ليکنو سره آشنا شوی يم، په دې هيله يم چې نن او سبا به د لېوال ژبې غږ راشی، چې دادی د هيواد د ځوانانو ملاوې يې وتړلې، لښکر يې جوړ کړ او توغ يې اوچت کړ. زما له نظره دا کار اصولی اهميت لري. ځکه په تش لاس څه نه کيږي. د اوسنی دولت په چوکيو د کار له لارې خلکو ته خدمت کول هم امکان نه لري. کيدای شی په انفرادی توګه يو څوک يو چا ته ګټه ورسوی، خو تجربو ښوولی ده چې ډېرې طلاوې د مالګې په کانونو کې مالګې شوی دی. که څه هم د مالګې آغېز پر طلا کم وی، خو د مالګې کان هم طلا په خپل اصل طلا کولای نه شی. داسې مثالونه هم زمونږ په ټولنه کې شته، او هم د نړی تجربو دا ښوولي او زبات کړي ده.

په پای کې مو په ژور درناوی سره نمانځم.



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ